انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۸/۲٤

# د افغانستان په هکله د امریکا نوی ستراتیژی

## کی نوی هیلی:

په افغانستان کی د عثامه بن لادن په مشری د القاعدی د ترهګری شبکی دموجودیت له کبله، او د همدی ډلی له خوا په نیویارک کی د تر ټولو ستری تروریستی حملی نه وروسته چی تر دری زره زیات بی ګناه کسان پکی و وژل شول، د ملګرو ملتو د امنیت د شورا سره په مشوره کی د امریکا د متحده ایالاتود دولت له خوا د سختو نظامی عملیاتو په نتیجه کی د طالبانو دولت را نسکور شو. په ډیری عجلی سره د جرمنی د هیواد، د بُن په ښار کی په داسی حال کی د حامد کرزی په مشری یو داسی ګډوله حکومت را منځ ته شو چی په سر کی یی په افغانی ټولنه کی ټول جنګی جنایت کاران، غله، داړه ماران او زورواکان  واقع شول. د ۲۰۰۱ کال نه بیا تر ننه پوری، څوک ونه پوهیدل چی امریکا ولی او د کومو هدفونو د پاره افغانستان تر خپلی قبضی لاندی راوست؟ ایا دا قبضه په رښتیا هم یوائی د تروریزم سره د مبارزی او مقابلی د پاره ده او که ترشا یی نور څه پراته دی؟ که د افغانستان اشغال د تروریزم سره د جګړی او مقابلی د پاره تر سره شوی و، نو بیا د پاکستان د هیواد سره چی په سیمه کی د همدی تروریستانو ستر حامی، ساتونکی او ملاتړی هیواد و او دی، دا د ملیاردونو ډالرو مرستی د څه د پاره وشوی او کیږی؟ که د امریکا د دولت هدف په رښتیا سره هم د تروریستاو ماتول او له منځه وړل و، نو کله چی د دوی یو شمیر عسکر د افغانستان نه راوتل خپله ټوله سلاح او جنګی تجهیزات یی ولی هماغه دولت ( پاکستان) ته ورکړل چی دالقادی د تروریستی شبکی مشر عثامه بن لادن یی د کلونو کلونو د پاره د خپل هیواد  د پایتخت په  پنځه یا لس کیلو متری کی ساتلی و؟ د طالبانو مشر ملا عمر هم هلته د (آی،اس،آی) په لمنه کی ژوند کاوه، ملا منصور په همدی هیواد کی و وژل شو، د کویټی او پیښور شوراګانی اوس هم د دوی د سر پرستی لاندی د افغان دولت د بی ثباتی او د امریکا د عسکرو د وژلو پلانونه جوړوی او لاهم ورسره د میلیونونو ډالرو مرستی جریان لری.

له بده مرغه په تیرو شپاړسو کلونو کی نه افغان سیاستوال او نه په امریکا کی ازاد خیاله سیاستوال د امریکا د دولت په دی مرموز او مبهم سیاست و پوهیدل چی دلته څه لوبه روانه ده؟

د افغانستان د کشمکش نه را وروسته د عراق، لیبیا، مصر او په وروستیو کی د سوریی په هیوادونو کی بدلونونو ته لاره پرانستل، د القاعدی او طالبانو تر خنګ د خوچنده وحشی،ظالمی او سخت زړی تروریستی ډلی آسیس (داعش)



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

رامنځه کېدل او په دومره سرعت سره د دومره خرابیو د پاره د قدرت مېندل، څه ډول یوه ډرامه کېدلی شی؟ دا ډول ډېری پوښتنی شته چی لا هم د سم ځواب مېندل ورته ډېر ګران بریښي، خو د امریکا د جمهور رئیس دونالد ټرمپ د اګست د میاشتی د یو ویشتم ماښام وینا چی د افغانستان او جنوبی اسیا په هکله یی خپله ستراتیژی څرګنده کړه، تر یوه حده پوری دا وښای چی، د ځینو شنونکو او تحلیل ګرانو دا نظر چی امریکا، افغانستان اشغال کړیدی سم نه دی. ټرامپ په ښکاره الفاظو کی و ویل چی زمونږ مبارزه په سیمه کی د تروریزم د ورکولو پوری مربوطه ده، او په دی برخه کی یی د ناتو د نظامی ټرون په ټول غړو هم غږ وکړ چی په افغانستان کی د ثبات را وستلو په لار کی د هر مؤثر عمل په سرته رسولو سره ونډه واخلی.

ټرمپ په څر ګنده توګه و ویل چی هند د یوی ستری دموکراسی لرونکی هیواد دی او د افغانستان په رغونه کی یی ستره برخه اخستی ده. هغه هیله وکړه چی هند د افغانستان په آبادئ کی نورو مرستو ته هم ادامه ورکړی. د دی خبری مطلب دا هم کیدای شی چی د امریکا هیواد د هندوستان هیواد نه ور نژدی کیدل غواړی او تمه لری چی په سیمه کی د تروریزم سره په مبارزه او د ثبات په را وستلو کی د امریکا سره او مرستو ته نوره هم پراختیا ورکړی او د افغانستان په رغونه کی دوامداره ونډه واخلی.

جمهور رئیس ټرمپ د افغانستان او د اسیا د جنوب د پاره د خپل دولت د ستراتیژی په اعلانولو کی د پاکستان دولت ته په شدیدو الفاظو کی دا خطار په بڼه و ویل چی « مونږ نور نه شو کولی چی د طالبانو په خیر ترهګرو ډلو ته په پاکستان کی د پناه ورکونی مسله چی هم د منطقی او هم د نوری نړی د پاره لوی تهدید دی له پامه و غورزوو». هغه د یولړ نورو څرګندونو نه وروسته و ویل چی « که پاکستان له مونږ سره همکاری وکړی نو ډیره ګټه به وکړی، خو که له جنایتکارانو او تروریستانو نه ملاتړ ته ادامه ورکړی نو ډیر تاوان به وکړی» د ټرمپ د دی خبرو مفهوم بیخی څرګند دی او هغه داچی، د امریکا دولت نور پاکستان ته د پخوا په څیر د ستراتیژیک ملګری په حیثیت نه دی قایل او په دی قانع شوی چی تر اوسه د افغانستان په دی اوږدی جګړه کی چی امریکا ورسره مخامخ شویده، هرڅومره خسارات او د سر زیانونه چی امریکا ته رسیدلی دی دا ټول له ترهګرو ډلو سره د پاکستان د مرستو له امله را منځ ته شوی او پاکستان د دی جګړی د پیل له لومړی ورځی راهیسی تر ننه پوری نه یواځی د افغانستان بلکی امریکا، ناټو او د ټولی نړی په وړاندی د دوه مخی ناوړه سیاست چلولی او په خاصه توګه یی د امریکا د زمامدارانو په سترګو کی خاوری ورشندلی دی. په دا تیره یوه نیمه لسیزه کی افغان دولت، سیاستوالو او ولسونو په شریکه ډیری ناری سوری و وهلی چی د تروریزم ټولی ځالی په پاکستان کی دی، خو په ټوله نړئ کی داسی غوږ پیدا نه شو چی دا ناری سوری واوری.

په دی برخه کی د افغان دولت ( خصوصاً د ډاکټر محمد اشرف غنی له واک ته رسیدو را وروسته)، خپله د ډاکټر غنی، د افغان سیاست والو، ژورنالستانو، تحلیل ګرانو، لیکوالانو، شاعرانو، هنرمندانو او د جمعی میډیا د چلونکو ونډه (هم په هیواد کی دننه او هم له هیواد څخه بهر) او د ټولو هلی ځلی ډیری د ستاینی وړ دی او د دی ټولو قشرونو د وطندوستی ډیره ښه نمونه بلله کیږی. د همدوی هلی ځلی وی چی د پاکستان اصلی څیره یی د امریکا یی سیاستوالو سره یوځای د امریکا واکدارانو او د سپینی مانۍ چارواکو ته ور وښوله او بلاخره د امریکا دولت چی په ټوله نړئ کی د ټولنیز عدالت حامی ځانته وایی د پاکستان نظامیانو ته د دی ګوت څنډنه وکړه چی د تروریزم او دترهګرو له

ملاتړ څخه چی په عمده توګه افغانستان او بیا نوری نړی ته تر ټولو لوی خطر دی، لاس واخلی او که نه نو ټول مسؤلیت به د دوی په غاړه وی او قیمت به یی اداکړی.

همدارنګه دی نوی ستراتیژۍ هم افغان دولت او هم طالبانو ته خبر ورکړ چی : که هر څومره ژر طالبان د جنګ نه لاس واخلی او د افغان دولت سره د خبرو له لاری خپلی ستونزی حل کاندی په هماغه اندازه به د امریکا نظامی حضور ته په افغانستان کی د پاتی کیدو اړتیا له منځه یوسی. خو که دا کار ونه شی نو جمهوررئیس ټرمپ په څرګنده توګه و ویل چی «زمونږ سرتیری به د بریالیتوب د پاره و جنګیږی. او مونږ به تر بری پوری جنګ ته ادامه ورکړو» هغه د افغان اردو د روزنی او مجهز کیدو ژمنه هم وکړه او په افغان دولت یی هم غږ وکړ چی د ښی اداری د جوړونی له لاری دی په خپل وطن کی د سولی د راوستلو او ثبات د پاره کار وکړی،

که د امریکا د دولت دغه نوی پالیسی په عمل کی پلی شی نو د دی هیله شته چی په لنډ وخت کی به دغی اوږدی غمیزی ته د پای ټکی کیښودل شی. خو زه په دی باور یم چی ترڅو پوری افغان دولت د فساد نه یو خلاص دولت نه شی، تر څو پوری مشهور جنګی جنایت کاران، داړه ماران، غله او د ملی شتمنیو لوټماران د دولت د لوړو پوستونو نه ونه شړل شی او ترڅو پوری چی د مخدره موادو د وطنی او نړیوالی مافیه لاسونه ددی ناوړه عمل څخه لنډ نه شی او بلاخره ترڅو پوری چی ټول افغان چاراوکی په هر موقف کی چی وی د هیواد ټول قوانین او مقررات په ځان تطبیق نه کاندی، تر هغی پوری افغانستان ته نه سوله راتللی شی او نه افغانان د یوه باثباته دولت د جوړیدو توان میندلی شی. په لنډه توګه د امریکاد پالیسی او ستراتیژۍ تطبیق او عملی کیدل هغه وخت زمونږ د غمیزی د پای ته رسیدو سره مرسته کولای شی چی زمونږ ټول وطنوال په پوره ایمانداری ، صداقت، یووالی او ګډی همکاری سره د ټول پیښنو سره مسؤلانه برخورد وکړی او په ریښتونی سره د مثبت بدلون په لوری شریک ګامونه پورته کړی. او که داسی ونه شی نو د همدی پالیسی له مخی به امریکان تر ډیرو کلونو پوری په افغنستان کی پاتی شی او هره ورځ به د خپلو بی ګناه خلکو د مرګ او ژوبلو ننداره کونکی او ژړیدونکی پاتی شو. د د داسی خواشنونکو ورځو د نه راتلو په هیله.

**پای**